**مطبوعاتي اعلامیه**

## اې د قدرت څښتنانو! د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې د شرير دښمن (امریکا) له شر څخه د خلاصون لپاره خلافت تاسیس کړئ!

له افغانستان څخه پاکستان ته د امریکا د ماتې د لېږد لایحه، چې د سپټمبر په ۲۷مه د ۲۲ امریکایي سناتورانو له لوري معرفي شوه، د پاکستاني سیاسیونو په منځ کې یې وحشت او اندېښنې راوپارولې. له دې لایحې ښکاري چې موخه يې له ترهګرۍ سره د مبارزې پر وړاندې قانون، پر افغانستان نظارت او د امریکا د ماتې پر دلایلو پوهېدل دي. خو په حقیقت کې، د طالبانو پر وړاندې د بندیزونو پلي کول او د هغو دولتونو مجازات کول دي، چې له دوی سره اړیکه لري. په دې لایحه کې له درد څخه ډک خاطرات شته؛ کله چې د پاکستان پر وړاندې بندیزونه ولګول شول، د شوري پر وړاندې د جهاد پای ته رسول مو یاد ته راوړي. دې ته ورته ناورین په ۱۹۹۸م کې د پاکستان د هستوي بمب له ازمېښت څخه وروسته رامنځ ته شو. پر دې سربېره، د سپټمبر په ۲۴مه څلور اړخیزه ناسته دې واقعیت ته خبرداری ورکوي، چې امریکا د چین پر وړاندې هند د يو ستراتیژیک شریک په توګه تبدیل کړ، په داسې حال کې چې پاکستان لکه اضافي کاغذ ایسته واچول شو. امریکا د پاکستان له ستراتیژیک، اقتصادي او کلتوري قدرت څخه په استفادې سره خپلو ګټو ته پاملرنه کوي، د تحریم له ګواښ څخه ګټه اخلي، تر هغه وخته پورې چې څو په سیمه کې پاکستان د یوه اژدها په توګه خپل ځای هند ته ورکړي.

**اې په پاکستان کې د قدرت څښتنانو!** امریکا پرېږدئ، لکه څرنګه چې مخکې دوی په ډېره اسانۍ، څو ځله پاکستان یوازې پرېښی و. په افغانستان کې تر غرونو لاندې د امریکا د غرور په خښولو سره، امریکا اوس «د نړۍ زوړ او ناروغ سړی» دی، چې د خپل کمزوري نظامي ضعف د خندا وړ شوی دی. اوس د هغوی د نړیوال نظم د له منځه وړلو ښه وخت دی او له خلافت پرته بل هېڅ هېواد دا کار نه شي کولای. له ځمکنیو بریدونو څخه په ټیټو سترګو وتلو سره، بايدن یوازې پر محدودو هوایي بریدونو واک درلود.

که چېرته د بايدن لپاره ان «بلوار» بندر وتړل شي، په سفارتونو او کونسلګریو کې یې نظارتي پوستې هم تړل کېږي. په دې سره، په داسې حال کې چې موږ د اوسني نړیوال نظم بندګان یو، هېڅکله نه شو کولای چې د امریکا له استعمار څخه ازاد شو. په واقعیت کې، د حاکم نړیوال سیستم له منځه وړل، زموږ د حاکمیت په راګرځولو پورې اړه لري. دغه نظام دی چې زموږ اقتصاد د بهرنۍ پانګونې، د سود پر بنسټ قرضونو او د ډالرو پورې تړاو مهارولی شي. دا استعماري سیستم دی چې د پیسو نړیوال صندوق، نړیوال بانک، د مالي اقدام ځانګړې ډله، د ژوند چاپېریال پروتوکولونه، نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي قوانین، د معنوي مالکیت حقوق او د

فناوري د تر لاسه کولو قوانین زموږ د استقلالیت د مخنیوي لپاره تبلیغ کوي. دا رژیم عادلانه نه دی چې پر کافرو هېوادونو برید، په سختو موضوعاتو لکه کشمیر، فلسطین، میانمار (برما) او ترکستان متوقف کړي. دغه له سپکاوي ډک امر ان موږ نه پرېږدي چې د هند د ترهګرۍ متفکر مغز، کولبوشان یاداو اعدام کړو. دغه رژیم ویجاړوونکی دی چې د غرب نیمه لیبرال تمدن زموږ پر خلکو جاري کوي، په داسې حال کې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عزت ساتلو لپاره له هر ډول اغیزمن اقدام څخه مخنیوی کوي.

**اې د قدرت څښتنانو!** نور بس ده، راځئ، څکه چې د نړیوال نظم او قید څخه د خلاصون په موخه حزب التحریر له بشپړې پروژې سره ستاسو په مخ کې دی. افغانستان چمتو دی چې له پاکستان سره متحد شي. د منځنۍ اسیا مسلمانان ستاسو انتظار کاږي، تر څو یې د ظالمانو له ظلم څخه وژغورئ. د پاکستان مسلمان میشتو سیمو اتحاد، افغانستان او مرکزي اسیا د خلافت د حاکمیت تر چتر لاندې د خوړو، انرژۍ او پوځي ځواک له پلوه پر ځان بسیا کوي. فرصت غنیمت وګڼئ او د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د غږ په ځواب کې د نړۍ د ناروغ سړي (امریکا) قید او بند مات کړئ. د خلافت پروژه ستاسو د ارادې او پرېکړې ته په تمه ده او په څو ساعتونو کې امت په سم مسیر روانولی شي.  د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منهج د خلافت د بیا تاسیس لپاره حزب التحریر ته په نصرت ورکولو سره د امریکا استعمار او اوسنی نړیوال نظم خښ کړئ. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿إِن يَنصُرْكُمُ اللّهُ فَلاَ غَالِبَ لَكُمْ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا الَّذِي يَنصُرُكُم مِّن بَعْدِهِ وَعَلَى اللّهِ فَلْيَتَوَكِّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾**

***ژباړه:*** *«که الله تعالی مو مرستندوی وي، نو هېڅ قوت دربانديې برلاسی کېدای نه شي؛ که هغه تاسې پرېږدي، نو بیا له الله تعالی وروسته څوک ستاسو مرسته کوونکی کېدای شي؟ نو څوک چې رښتیني مومنان دي، هغوی د یوازې پر الله تعالی توکل وکړي.* [عمران: ۱٦۰]

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د صفر ۲۵مه**

**۲۰۲۱م، د اکتوبر ۲مه**

**د صدور ګڼه: ۱۲/ ۱۴۴۳**